# د "ویښ زلمي" ملي مترقي نهضت

# ویاړلی غړی



## غلام حسن خان ساپی

۱۹۱۲ - ۱۹۸۴ م.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

د نوموړي کورنی د لغمان د میرزایانو په کورنی سره شهرت درلود، دی په قام ساپی او په عمر زیو کی استوګنی لری، دا کلی د الیشنګ د دری په خوله کی د سیند په شی خوا پرته ده.

غلام حسن خان په کال (۱۹۱۲) د عمرزیو په کلی کی زیږیدلی دی. لیک او لوست په خپل فامیل کی زده کړه او پس له هغی نه په رسمی دوایرو کی د میرزائی وظیفه ئی اجرا کول. تقریباً په کال (۱۹۳۱) وه چی محمد ګل خان مومند د کندهار د رئیس تنظیمه په حیث مقرر شوه، غلام حسن خان ساپی هم ورسره کندهار ته لاړ، او هلته د قلم مخصوص په مدیریت کی د کاتب په حیث کار کول. په کال (۱۹۳۳م) کوم وخت چی ښاغلی مومند د شمال د صفحاتو د تنظیم لپاره هغه خواته تبدیل شوه، حسن خان ساپی هم ورسره مزار شریف ته لاړ، او د مدیر تحریرات په صفت وظیفه اجرا کول، په کال (۱۹۳۸-٤٤) د رشتیا د تجارتی شرکت او وروسته د بلخ د اتحادیی د شرکت د اداری مدیر په حیث مقرر شوه، په کال (۱۹٤۷م) د دیپوی تعاونی د رئیس په حیث مقرر شوه، همدا وخت په سیاسی فعالیت هم لاس پوری کړه، او د ویښ زلمیانو په نهضت کی شامل شوه، په کال (۱۹٤۸) د حکومت له خوا بېبی ته ولیږل شوه چه هلته د دیپوی تعاونی آمریت او نمایندګی اجرا کړی، او سر بیره د هغی د بانک ملی افغان د مدیر په حیث هم کار کول، په کال (۱۹۵۰م) بیرته کابل ته ستون شو.

د ننګرهار د سره رود په سیمه کی چار باغ صفاته نژدی یو زیارت دی چی د موی مبارک په نامه یادیږی، د مولود شریف په ورځ ډیر خلک هغه زیارت ته راغونډیږی او موی مبارک زیارت کی باسی، او دعا ګانی کیږی. په کال (۱۹۵۰م) چی هغه مراسم اجرا شره، د هغی په هکله ښاغلی ساپی یوه مقاله خپور کړه، چی په دی عصر او زمان کی خلک په داسی مراسمو کی ځانونه باید مصروف نکړی، او نور مثبت فعالیتونو ته چی د جامعی لپاره ګټه وره وی باید متوجه شی. دا خبره پر ځنی روحانیون او متعصب ملایانو باندی بده ولګیدل او د تکفیر حکم ئی پری وکړه او د ښاغلی ساپی پر ضد سختی مظاهری روانی کړل او غوښتل چی ساپی دی سنګسار شی.

تصادفاً په همدا وخت میر صاحب (میر سیدقاسم خان) د عدلیی د وزیر په حیث مقرر شوه، نوموړي وزیر هغه هیجانی شور ماشور او جریان په ډیر فراست او عاملیت آرام کړه په دی ترتیب چی محکمه پر ښاغلی ساپی باندی دا حکم صادره کړه چی نوموړي تر هغه وخته پوری بندی وی چی آثار



pashtoon.net / pashtun.info September 2017

صلاح او توبه دده د تندی نه برآلا شی. په دی هیله ساپی ئی د مرگ نه بچ کړه ، نو پس له دوه کلو نه میر صاحب امر وکړه چی نوموړی د بند نه راخلاص شی.

کوم وخت چی مرحوم سردار داود خان صدراعظم شوه، او د پښتونستان چیغه زور واخیست، غلام حسن خان ساپی یی (۱۹۵۳) په پشاور کی د افغان قونسل په حیث مقرر کړه، په کال (۱۹۶۰م) چی سیاسی فضا د افغانستان او پاکستان په مینځ کی کړکیچن شوه او په پای کی سیاسی مناسبات د دواړو ملکو د مینځ نه وشلیدل ، ښاغلی ساپی هم کابل ته راغی او په کال (۱۹۶۳م) کی نوموړی د افغانستان په سفارت په بغداد کی د وزیر مختار او مستشار په حیث مقرر شوه، ښاغلی ساپی په ۱۹۶۵م کال کی د بغداد نه استعفای ورکړه او لغمان ته لاړ چی په ولسی جرگه کی د لغمان د وکیل په حیث انتخاب شی مگر په رأی گیری کی ناکام شوه او اصولاً بیرته په خپل پخوانی وظیفه بغداد ته لاړ، یو کال وروسته اندونیزیا ته د افغانستان د سفیر په حیث مقرر شوه او په کال (۱۹۷۲-۱۹۷۷) په چکسلواکیا کی د سفیر په حیث وظیفه اجرا کول، بیا د هغی ځای نه برطرف شوه او کابل ته راغی، د کمونیستی درژیم په دوران کی نوموړی دری میاشتی زندانی هم شوه، په کال (۱۹۸٤) د فروری په میاشت کی وفات شوه.



pashtoon.net / pashtun.info September 2017